

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه
اباديٍ
هفته نامه آبادی

ګڼه: ۱۷ | مسلسل نمبر: ۱۰۷

چهارشنبه، د صفر المظفر ۵مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال



## سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په شپږمه نېټه په انترکانتیننټال هوټل کې بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان ماهرو او مسلکي کارګرانو د لېږلو پروسې د پیل په مراسمو کې ګډون وکړ. محترم ملا صاحب بهرنیو هېوادونو ته د افغان کارګرانو د لېږلو پروسه د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه‌والي او بې کارۍ کچې په راټیټولو کې مؤثره وبلله او زیاته یې کړه، چې اسلامي امارت له تېرو څلورو کلونو راهیسې هڅه کړې څو د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب او له نورو هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو د پراختیا له لارې په هېواد کې کاري فرصتونه ایجاد کړي. په افغانستان کې د اشغال او جګړو له امله د هېواد زیربناوې له منځه ولاړې او ورسره ډېرې سکټورونه له فعالیته ولوېدل. همدا لامل و چې لومړی اقتصادي وده په ټپه ودرېده او وروسته په هېواد کې د بې کارۍ کچه په بې ساري ډول لوړه شوه. خو په هېواد کې د اشغال د تغر په ټولېدو او د اسلامي امارت په بیا ځلې واکمنېدو سره هڅه داده چې د بې کارۍ کچه راټیټه، خلکو ته د کار زمینه برابره او د هغو ځوانانو د تګ مخه ونیول شي چې اوسمهال په ناقانونه ډول له هېواده وځي. اسلامي امارت د اقتصادي ودې او بې کارۍ کچې راکمولو له پاره عملي ګامونه پورته کړي دي. د لویو او سوداګریزو لارو ترڅنګ یې د کانونو استخراج او یو لړ نورې زیربنایي پروژې هم تر کار لاندې نیولې دي او له دې سره یې زرګونو هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره کړې ده. اسلامي امارت پر دې بسنه نه ده کړې، دا دی اوس یې په قانوني ډول بهرنیو هېوادونو ته دکارګرانو د استولو لړۍ هم پیل کړه. په لومړي سرکي یوازې قطر هېواد ته دوه زره کارګران په قانوني ډول استول کېږي، چې په راتلونکي کې به یې شمېر زیات شي. د دې ترڅنګ له ایران، روسیې، متحده عربي اماراتو، عمان، تاجیکستان، ترکیې، اذربایجان، سعودي عربستان او یوشمېر نورو هېوادونو سره هم د افغان کارګرانو د لېږد په اړه خبرې رواني دي. دا یو ښه اقدام دی، په دې سره به له یوه لوري په هېواد کې د بې کارۍ کچه راکمه او له بل لوري به د هېواد پر اقتصاد هم مثبت تاثیر وکړي. دا ځکه چې د کارګرانو له استولو سره به هېواد ته دغه کسان بهرني اسعار رالیږي او دا بیا د هغوی د کورنیو له لوري د ژوند کیفیت لوړولو، پانګونې او تعلیم په برخو کې کارول کېږي. دغه راز د کارګرانو له خوا هېواد ته راستول شوي پیسو سره د بهرنیو اسعارو زېرمې زیاتېږي، چې د وارداتي توکو او نړیوالو معاملو لپاره مهم دي. د دې ترڅنګ بهرنیو هېوادونو کې به کارګران نوي مهارتونه او تجربې زده کړي او له دې مهارتونو څخه به بیا د هېواد په پرمختګ کې ګټه واخیستل شي. د کارګرانو له لوري د راستول شویو پیسو زیاته برخه به په کوچنیو سوداګریو، زراعت یا نورو سکتورونو کې ولګول شي او له دې سره به د پانګونې کچه لوړه شي. دا ټول هغه څه دي چې کولای شي د هېواد پر اقتصادي وده مثبت تاثیر وکړي او ورسره د بې کارۍ کچه راټیټه او هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي.

### د ابونصر فراهي بندر د پراختیا لپاره ۴۰۰۰ جریبه ځمکه ځانګړې کېږي



۲ صفحه

### بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان ماهرو او مسلکي کارګرانو د لېږد پروسه پیل شوه



۲ مه صفحه

### په یوځای د مالیاتو د ورکړې په اړه له ملي سوداګرو او صنعتکارانو سره مشورتي ناسته ترسره شوه



۳مه صفحه

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه اباديِ
هفته‌نامه آبادی

# د ابونصر فراهي بندر د پراختیا لپاره ۴۰۰۰ جریبه ځمکه ځانګړې کېږي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په لومړۍ نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. د اقتصادي کمېسیون دې غونډې ته له اجندا سره سم د فراه ولایت د ابونصر فراهي بندر د تاسیساتو جوړولو او د موټرونو د تخلیې او بارګیرۍ لپاره د ځمکې د انتقال او د دغه بندر د پراختیا موضوع وړاندې شوه. له بحث وروسته پرېکړه وشوه چې په ابونصر فراهي بندر کې دې د تخلیې او بارګیرۍ او اړوندو ادارو لپاره ۴۰۰۰ جریبه ځمکه ځانګړې شي. د کور او ښار جوړولو وزارت دې د دغه بندر د پراختیا نقشه او ډیزاین چمتو او پر ټاکلې نېټه دې اړوندو ادارو ته د تطبیق په موخه وسپاري. همدارنګه مالیې وزارت ته هدایت وشو چې د دغه بندر د پراختیا پروژه د راتلونکي مالي کال په بودیجه کې د اړوندو وزارتونو له سهم څخه په پام کې ونیسي.



همدارنګه په دې غونډه کې د خصوصي سکتور له لوري د غزني ولایت په مرکز کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت پر ځمکه د سړې خونې او جوسو کارخونې جوړولو پر طرحه هم بحث وشو. له هراړخیز بحث وروسته یاده طرحه تایید شوه. د دې طرحې له مخې په ۳۵ جریبه ځمکه د ۵۰۰۰ ټنه په ظرفیت سړه خونه او همدا راز د جوسو کارخونه جوړېږي، چې ۱۴۰ میلیونه افغانۍ پانګونه پرې کېږي.

یاد تصامیم د منظورۍ په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب دفتر ته واستول شول.

# بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان ماهرو او مسلکي کارګرانو د لېږلو پروسه پیل شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په شپږمه نېټه په انټر کانټیننټال هوټل کې بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان ماهرو او مسلکي کارګرانو د لېږلو پروسې د پیل په مراسمو کې ګډون وکړ. محترم ملا صاحب بهرنیو هېوادونو ته د افغان کارګرانو د لېږلو پروسه د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه‌والي او بې‌کارۍ کچې په راټیټولو کې مؤثره وبلله او زیاته یې کړه، چې اسلامي امارت له تېرو څلورو کلونو راهیسې هڅه کړې څو د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب او له نورو هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو د پراختیا له لارې په هېواد کې کاري فرصتونه ایجاد کړي.



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، اوسمهال په هېواد کې د مختلفو پروژو عملي کارونه روان دي او له نورو هېوادونو سره سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو پراختیا موندلې ده. دې ټولو د هېواد د کار په بازار مثبت تاثیر کړی او ډېر کاري فرصتونه یې ایجاد کړي. د هغه په خبره، پردې سربېره اسلامي امارت هڅه کوي څو له بېلا بېلو لارو چارو څخه په


ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اباډي

استفادې په هېواد کې د بې‌کارۍ کچه راکمه کړي، چې یوه لار یې په قانوني ډول بهرنیو هېوادونو ته د افغان کارګرانو لېږل دي او له نېکمرغه دا پروسه پیل شوه.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، په بهر کې د کاري فرصتونو ایجاد به له کوربه هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزو او اقتصادي اړیکو ته لا ډېره پراختیا ورکړي، اړیکې به نږدې او د افغانستان نړیوال اعتبار به لوړ کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، په پرمختللو هېوادونو کې د افغان کارګرانو کار کول دوی ته دا فرصت ورکوي چې نوي مهارتونه زده او له نوي ټکنالوژۍ سره بلد شي او هېواد ته له راتګ وروسته یې د هېواد په ګټه وکاروي. محترم ملا صاحب ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت په هېواد کې د بې‌کارۍ کچې د کمولو لپاره جدي هڅې کوي او غواړي هېوادوالو ته هوسا او خوشاله ژوند برابر کړي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کار او ټولنیزو چارو وزارت له مسوولینو مننه وکړه، چې قطر ته یې د افغان کارګرانو د قانوني لېږلو زمینه برابره کړه. د دغه وزارت له مسوولینو یې همدا راز وغوښتل چې خپلو هڅو ته دوام ورکړي او نورې اسانتیاوې هم رامنځته کړي. محترم ملا صاحب له قطر هېواد څخه هم مننه وکړه چې په دې برخه کې یې همکاري وکړه او افغان کارګران قبلوي. محترم ملا صاحب له نورو هېوادونو څخه هم وغوښتل چې د افغان کارګرانو قانوني منلو ته زمینه برابره او د هغوی له استعداد او مهارتونو څخه ګټه واخلي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان اسلامي امارت او قطر هېواد ترمنځ د ۲۰۰۰ ماهرو او مسلکي افغان کارګرانو د لېږلو هوکړه شوې ده، چې د اسد میاشتې په اوومه نېټه یې په مختلفو ولایتونو کې د نوملیکنې پروسه پیل شوه. د کار او ټولنیزو چارو وزارت مسوولین وایي، چې پر قطر سربېره له ایران، روسیې، متحده عربي اماراتو، عمان، تاجکستان، ترکیې، اذربایجان، سعودي عربستان او یوشمېر نورو هېوادونو سره هم د افغان کارګرانو د لېږلو په اړه خبرې دوام لري او دا پروسې د نهایي کېدو په حال کې دي.

## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې له لوري د پانګونې پر مختلفو طرحو بحث وشو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته په هرات او نیمروز ولایتونو کې د بادي برېښنا د تولید او په کابل ښار کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې. له هراړخیز بحث وروسته جلا جلا کمېټو ته دندې وسپارل شوې، څو یادې طرحې له تخنیکي، مالي او اقتصادي پلوه و ارزوي او خپل راپورونه په ټاکل شوو نېټو د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

## په یوځای د مالیاتو د ورکړې په اړه له ملي سوداګرو او صنعت کارانو سره مشورتي ناسته ترسره شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت او مالیې وزارت مسوولینو د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په لومړۍ نېټه د ارګ په سلام خانې ماڼۍ کې د هېواد له ۴۰۰ زیاتو ملي سوداګرو او صنعت‌کارانو او د صنعت او



معدن او سوداګرۍ او پانګونې خونو له ولایتي رییسانو سره وکتل. په دې غونډه کې له تجارتي وارداتي شرکتونو څخه په ګمرک کې په یوځای د ثابتو مالیاتو اخیستلو په اړه بحث وشو. په لومړي سر کې د هېواد ملي سوداګرو او صنعت‌کارانو له اسلامي امارت څخه مننه وکړه، چې دوی ته یې بې شمېره سهولتونه رامنځته کړي او د همدې سهولتونو په ترځ کې سوداګرۍ او صنعت د پخوا په پرتله ډېر پرمختګ کړی دی. ملي سوداګرو او صنعت‌کارانو د سوداګرۍ کچې د لا پراختیا په موخه په اتفاق غوښتنه وکړه چې له تجارتي وارداتي شرکتونو څخه دې په یوځای ثابت مالیات واخیستل شي. دوی وویل، په دې سره به وتوانېږي چې د خپلو سوداګریزو انتقالاتو حجم څو برابره زیات او ټول وارداتي تجارتي شرکتونه به د مالیاتي بررسۍ له ستونزو خلاص شي. یاده موضوع به د وروستۍ تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون او بیا د اسلامي امارت مشرتابه عالي مقام ته وړاندې شي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونيزه
ابادي
هفته‌نامـه آبــادی

# په مختلفو برخو کې صنعتکارانو او سوداګرو ته د ستونزو د حل ډاډ ورکړل شو

د ریاستالوزراء اقتصادي معاونیت او مالیې وزارت مسوولینو د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په دوهمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې د هیواد د ملي سوداګرو او صنعتکارانو له شاوخوا ۱۵۰ استازو سره وکتل.



د دې لیدنې پرمهال د هیواد ملي سوداګرو او صنعتکارانو د برېښنا کمښت، په صنعتي پارکونو کې د ځمکو د توزیع، د صنعتي زېربناوو د جوړېدو، د صادراتو په بهیر کې د اسانتیاوو د رامنځته کېدو، د فوموګېشن او ترانزیټي ستونزو د حل، د هوایي دهلیزونو د رامنځته کېدو، پر کرنیزو محصولاتو او معدني توکو د تعرفو راکمولو، د ترانسپورټي کرایو د ټیټولو، د ګمرکي ستونزو د حل، د تخلیې او بارګیرۍ پروسې چټکتیا، د سرو خونو جوړولو، د جوازونو تمدید، د تجارتي ویزو ورکړې، د لویو ترانسپورټي او ترانزیټي لارو د جوړېدو، د افغاني توکو لپاره د بهرنیو بازارونو د پیدا کېدو او یوشمېر نورو برخو کې خپلې ستونزې شریکې کړې.

د ریاستالوزراء اقتصادي معاونیت او د مالیې وزارت مسوولینو د هیواد ملي سوداګرو او صنعتکارانو ته ډاډ ورکړ، چې د یوشمېر شریکو شوو ستونزو د حل لپاره اړوندو وزارتونو او ادارو جدي ګامونه اخیستي او ډېر ژر به حل شي. هغوی ډاډ ورکړ چې په پاتې برخو کې به هم په جدي ډول له اړوندو وزارتونو او ادارو سره کار وکړي او حل لارې به یې له اقتصادي کمېسیون او د اسلامي امارت د مشرتابه له عالي مقام سره شریکې کړي.

## اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

### کارهای ابتدایی خط آهن قندهار-هرات تا ۲ ماه آینده تکمیل خواهد شد

وزارت فواید عامـــه می‌گوید که پـــروژه ابتدایی خط آهن قندهار-هرات تا دو ماه آینده تکمیل خواهد شـــد. به گفته مسؤولان در این وزارت و شرکت قراردادی، کارهای توسعه این خط آهن بر اساس معیارهای بین‌المللی در حال انجام است. محسن مژده انجینر ایرانی پروژه به طلوع‌نیوز گفت: «همه ســـتندردهای که مورد استفاده قرار می‌گیرد؛ عمدتاً ســـتندردهای بین‌المللی اند. هم از لحاظ دیزاین، ساخت وساز، از لحاظ کیفیت بر اساس معیارهای منطقه‌ای و




جهانی کارها را انجام خواهیم داد.» شـــیر محمد انجنیر پروژه چنین می‌گوید: «در مجموع کار ما به طور اوسط ۳۵ درصد پیش رفته است. کار ما بر اساس ستندر بین‌المللی و با کیفیت اعلی است.» مسؤولان در وزارت فواید عامه می گویند که تاکنون ۴۰ درصد کارهای سروی و طراحی خط آهن هرات-قندهار تکمیل شده و قرار است مراحل ابتدایی آن تا سه ماه آینده پایان یابد. عبدالرحمن مجاهد نماینده وزارت فوایـــد عامه گفت: «این پـــروژه دو لات دارد، یک لات آن ۱۳۷ اعشاریه ۷ کیلومتر است و لات دیگر آن ۱۷۱ کیلومتر است. کار این پروژه از ۳۰ الی ۴۰ درصد پیش رفته اســـت و قرار است تا ۲ ماه آینده تکمیل شود.»پروژه خط آهن قندهار-هـــرات برای شماری از افـــراد زمینه کار نیز فراهم کرده اســـت. به گفته مســـؤولان، پس از تکمیل سروی و طراحی، بخش ســـاختمانی خط آهن در پنج فاز آغاز و از طریق خواف هرات به ایران وصل خواهد شد.

## امضای توافق‌نامه تجارت ترجیحی میان افغانستان و پاکستان

وزارت صنعت و تجارت افغانستان از امضای توافق نامه‌ی تجارت ترجیحی با پاکستان خبر می‌دهد. این توافق در جریان سفر معاون این وزارت به اسلام‌آباد و در چارچوب گفت‌وگوها برای کاهش چالش‌های ترانزیتی و گمرکی انجام شده است. آخندزاده عبدالسلام جواد سخن‌گوی وزارت صنعت و تجارت گفت: «هر دو طرف توافق کردند که چهار محصول زراعتی افغانستان، انگور، سیب، انار و بادنجان رومی تحت تعرفه‌ی ترجیحی به پاکستان صادر شود و در مقابل، چهار محصول پاکستانی کیله، آم، کچالو و کینو تحت تعرفه‌ی ترجیحی به افغانستان وارد گردد.» سردار احمد شکیب سفیر امارت اسلامی در اسلام‌آباد گفت: «این توافق‌نامه‌ی ترجیحی برای مدت یک سال اعتبار دارد و در صورت توافق دو طرف، می‌تواند تمدید شود و اقلام بیشتری نیز در آن گنجانده شود.» با این حال، شماری از تجاران افغان همچنان از چالش‌ها در بخش ترانزیت، تعرفه های بلند گمرکی و تأخیر در روند صادرات به پاکستان شکایت دارند. به باور شماری از آگاهان، حل این چالش‌ها می‌تواند به رشد تجارت افغانستان کمک کرده و فرصت‌های تازه‌ای را برای سکتور خصوصی ایجاد کند.

## وزارت ترانسپورت از تطبیق ۷۰ پروژه زیربنایی در یک سال خبر داد

وزارت ترانسپورت و هوانوردی در برنامه گزارش‌دهی کارکردهای یک‌ساله‌اش، از آغاز و تطبیق ده‌ها پروژه در بخش‌های ترانسپورت و هوانوردی خبر داده است. به گفته مقام‌های این وزارت، در یک سال گذشته، کار عملی بیش از ۷۰ پروژه زیربنایی در کشور آغاز شده است که شامل ساخت ترمینال‌ها، بازسازی بخش‌هایی از میدان‌های هوایی، ایجاد تیرپارک‌ها و انتظارگاه‌ها می‌شود. همچنین برای توسعه خدمات ترانسپورتی، ۲۳ هزار جریب زمین به این وزارت اختصاص یافته است. صدیق‌الله عابد معین مالی و اداری وزارت ترانسپورت و هوانوردی گفت: «بر اساس فرمان ویژه رهبر امارت اسلامی، ۲۳ هزار جریب زمین به وزارت ترانسپورت واگذار شده است. الحمدلله، کار ساخت تأسیسات ترانسپورتی در این زمین‌ها آغاز شده است.» مسؤولان این وزارت آمار داده‌اند که در یک سال گذشته، ۱۴ هزار پرواز از میدان‌های هوایی کشور انجام شده که بیش از نیمی از آن‌ها تنها از میدان هوایی کابل صورت گرفته است. در همین مدت، بیش از ۹۶ هزار پرواز عبوری نیز از حریم هوایی افغانستان به ثبت رسیده است که به‌طور متوسط، روزانه ۲۷۰ پرواز را شامل می‌شود. فتح‌الله منصور معین عملیاتی وزارت ترانسپورت و هوانوردی گفت: «در حال حاضر، با کشورهای ترکیه، روسیه، هند، قطر، ایران، امارات متحده عربی، چین، ازبیکستان، پاکستان، کویت، عربستان سعودی و برخی کشورهای دیگر پرواز داریم.»

## امضای ده‌ها قرارداد معدنی توسط وزارت معادن و پترولیم در یک سال گذشته

وزارت معادن و پترولیم اعلام کرده که در طول یک سال گذشته، ۱۰ قرارداد بزرگ استخراج معادن و ۴۲ قرارداد کوچک با شرکت‌های داخلی و خارجی به امضا رسانده است. همچنین، در سال گذشته ۴۹ جواز فعالیت برای شرکت‌های داخلی در بخش پروسس مواد معدنی توزیع شده و ۳۷۸ ساحه معدنی جدید در سراسر کشور شناسایی و ۴۰۰ نقشه تخصصی و تحلیل تهیه شده است. حسام‌الدین صابری معین مالی و اداری وزارت معادن گفت: «در سال گذشته، ۳۷۸ ساحه و ظواهر معدنی سروی شده، ۴۲ قرارداد به مقیاس کوچک امضا شده و ۴۹ جواز پروسس توزیع شده است.» این وزارت، خودکفایی افغانستان در تولید نمک، پیشرفت بیش از ۱۳ کیلومتری پروژه پایپ‌لاین تاپی، تکمیل پروژه انتقال گاز از شبرغان به مزار شریف، آغاز برخی پروژه‌های تولید سمنت و پیشرفت در معدن مس عینک لوگر را از مهم‌ترین دستاوردهای دیگر خود در سال گذشته برشمرده است. همایون افغان سخن گوی وزارت معادن و پترولیم، گفت: «افغانستان در بخش نفت و گاز منابع کافی دارد که استفاده نشده اند. در ادامه‌ی این روند، سال گذشته در شبرغان، قرارداد حفر پنج چاه امضا شد که بودجه آن از سوی امارت اسلامی تأمین شده است. شرکت قراردادی باید این چاه‌ها را حفر کند و پس از بهره‌برداری به امارت اسلامی واگذار می‌شود. هر یک از این چاه‌ها ظرفیت تولید روزانه صد هزار متر مکعب گاز را دارند.» به گفته این وزارت، در کنار جذب سرمایه گذاری و گسترش پروسس داخلی، در سال گذشته ۱۸ قرارداد به دلیل تخلف فسخ و یک قرارداد دیگر تعلیق شده است.


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تــولنيزو مسايلـــو په برخـــه كــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونیزه ابادي
هفته‌نامـه آبـادی



# افتتاح کمپلکس فابریکه‌های تولیدی؛ گامـی دیگــر به‌سوی پیشرفت کشـور

نجیب الله مایار

## مقدمه

در حالی‌که افغانستان به‌سوی رشد اقتصادی گام برمی‌دارد و نیاز به خودکفایی و رهایی از وابستگی به واردات بیش از هر زمان دیگری محسوس می‌گردد، افتتاح چندین کارخانه تولیدی از سوی شرکت ملی انکشاف، یک گام استراتژیک و امیدبخش به‌شمار می‌رود که در راســتای رشد تولیدات داخلی و تقویت زیربناهای اقتصادی کشــور برداشته شده اســت. این اقدام شرکت ملی انکشـــاف نشان می‌دهد که امــارت اسلامــی در عرصه بازســازی کشــور و پیشرفت اقتصـــادی اراده قوی دارد و می‌خواهد با اســتفاده مؤثر از تمام امکانات موجود، افغانســتان را در عرصه‌های مختلف به ســوی خودکفایی ســوق دهــد. با آغاز شــدن‌کار این کمپلکس تولیدی، برای شمار زیادی از هموطنان کشــور فرصت‌های کاری فراهم می‌گــردد و همچنین زمینه تهیه کالاهای مورد نیاز در داخل کشور مهیا خواهد شد.

## کمپلکس فابریکه‌های تولیدی در شرکت انکشاف ملی

کمپلکــس فابریکه ها تولیدی عناصر فلزی، ماشــین‌آلات زراعتی و صنعتی که توسط شرکت انکشاف ملی ساخته شده اســت، از ســوی محترم ملا عبدالغنی بــرادر آخند معاون اقتصادی ریاســت الوزراء به بهره برداری سپرده شد. محترم ملا عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی ریاســت الوزراء در این مراسم از تلاش‌های مسؤلان شرکت انکشاف ملی قدردانی کرده و افزود که پس از شــصت سال تأخیر، این فابریکه ها مجدداً فعال شــده و از شرکت انکشــاف ملی تقاضا نمود تا تولیدات با کیفیت و مطابق نیازهای بازار داخلی را به مردم عرضه کند. حاجــی ملا صاحب تأکید کرد که فعالیت مجدد این فابریکه ها، گام اساسی در پیشبرد تولید داخلی و تقویت صنعت ملی به شمار می‌رود ، تولیدات داخلی به جای تولیدات خارجی رشــد و تقویت می شــود و ضمن ایجاد فرصت‌های شغلی گسترده، تولیداتی را با قیمت رقابتی نسبت به بازارهای منطقه‌ای و خارجی ارائه خواهد کرد. شرکت انکشـــاف ملی برای پیش برد و تطبیق برنامه های استراتیژیک و پروژه های تحت کار خویش نیاز به فعال ســازی  فابریکه ها تولیدی در بخــش های مختلف دارد. به گفته مســؤلان این شرکت به همین منظور بعد از تحلیل و بررســی همه جانبه اقتصادی، مالی و جهت بلند بردن سطح تولیدات داخلی؛ رهبری شرکت انکشاف ملی تصمیم گرفت تا در قدم اول فابریکه ها موجود عناصر فلزی و قطعات پیش ســاخت را برای ســاخت و ساز ماشین آلات زراعتی و صنعتی، فابریکه ها صنعتی کوچک، وســایط ترانسپورتی، وسایل و سامان الات برق، دروازه های کانــال ها و بند ها؛ ترمیم و نوســازی نماید، تا از یک طرف صنعت داخلی کشــور رشــد نماید و از طرف دیگر اجناس و لوازمی که در این فابریکه ها تولید می شود، به قیمت نازل تر از بازار محلی و بازارهای خارج از کشور، در دسترس قرار گیرد. روی همین ملحوظ شرکت انکشاف ملی تصمیم گرفت تا با استفاده از منابع دســت داشته؛ مخروبه‌های بجا مانده ازین فابریکه ها را دوباره بازسازی نموده، ماشین‌آلات آن ترمیم و فعال گردد تا فصل نوین جهت خودکفایی و شگوفایی کشور گشوده شود.  کمپلکس فابریکه ها که امور ترمیم و بازسازی آن آغاز گردیده، شامل بخش های اساسی ذیل می باشند:

- **بخش تولید ماشین آلات و وسایل زراعتی**
- **بخــش تولیــد ماشــین آلات صنعتــی و فابریکــه ها کوچک**



- **بخش وسایط ترانسپورتی**
- **بخش تولید عناصر فلزی**
- **بخش افزار و وسایل برق**
- **بخش قطعات پیش ساخت**
- **بخش تولید پرزه جات**

این فابریکه ها که بشکل اساسی و با معیارهای پذیرفته شده ترمیم و بازســازی شــده اند و به منظور کار های ذیل از آن استفاده میشوند:

۱ - **هنگر سرمیخانیکی:** این هنگر با داشتن ۸۰ پایه ماشین آلات مختلف النـــوع خرادی، فریز، رنده، برمه ، پرس و غیره جهت ساخت و ساز هر نوع پرزه جات ماشین آلات و وسایط؛ قابل استفاده میباشد.

۲ - **هنگر های استکرچر فلزی (هنگر A و هنگرB ):** این هنگر ها با داشتن ۵۰ پایه ماشین آلات مختلف النوع، برش کاری، فلز کاری، قطع کردن، رول کاری وغیره جهت ساخت و ساز قطعات عناصر فلزی مورد استفاده قرار میگیرد.

۳ - **هنگر قطعات پیش ساخت:** درین بخش ۳۶ پایه ماشین آلات مختلف النوع قـــات کاری، SFS، رول فارمینگ، برش کاری، لیزر برش و غیره جهت ســـاخت و ساز قطعات پیش ساخت ساختمانی، قطعات عناصر فلزی و چندین مورد دیگر تخنیکی مورد استفاده قرار می گیرد.

۴ - **مرکز طرح و دیزاین شرکت انکشاف ملی:** در این مرکز سهولت طراحی و دیزاین پروژه های مختلف النوع در مقیاس های مختلف وجود دارد. پـــروژه های و طراحی های مربوط تولید شرکت نیز درین مرکز بزرگ طراحی می شوند.

۵ - **لابراتور شرکت انکشــاف ملــی:** در این مرکز تمامی آزمایش های لابراتواری ســاختمانی پروژه ها و برنامه های شرکت انکشــاف ملی در بخش ها و رده های مختلف انجام می شود.

۶ - **ترمیم هنگر پی وی ســی و هنگر شیشه:** این هنگر ها جهت ســاخت و ساز پی وی سی و شیشه مورد استفاده قرار می گیرند.

۷ – **هنگر C:** این هنگر جهت نصب و فعال ســازی ماشین آلات عصری و پیشرفته جهان جهت ســاخت و ساز فابریکه ها، در نظر گرفته شده است.

۸ - **هنگر ذوب آهن:** جهت ذوب آهن و ریخته گری بخش های مختلف عناصر فلزی این هنگر با کوره القایی ذوب آهن دو بته ای ۵۰۰ کیلو گرام فعال گردیده است.

۹ - **ســالون کنفرانس ها:** جهت پیشرد برنامه های ظرفیت ســازی، همایش ها و ســایر نیازمندی ها ازین تالار بزرگ استفاده صورت می گیرد.

۱۰ -**طعـام خانه مجهز:** برای پخت و پـــز و صرف طعام ، صالون و آشپزخانه مجهز در ساحه در نظر گرفته شده است.

۱۱ - **مهمانخانه شرکت انکشاف ملی:** شرکت انکشاف ملی به منظور جذب نیروی متخصص خارجی و انجنیران تخنیکی جهت پیش برد ســـاخت و ساز فابریکه ها بزرگ، مهمانخانه عصری و مجهـــز را آماده نموده تـــا از یک طرف هزینهٔ بودو وباش مهمانان، کمتر شـــود، از طرف دیگر محل مصؤن و نزدیک محل کار برای متخصصین امور مساعد گردد.

## ارزش اقتصادی کمپلکس فابریکه‌های تولیدی انکشاف ملی

ایجاد و فعالیـــت کارخانه‌های تولیدی نقش تعیین‌کننده در رشد اقتصادی کشـــور، کاریابی، توازن تجارتی، خدمات و سایر بخش‌های مختلف دارد که برخی از آنها را در اینجا به صورت مختصر یادآوری می‌کنیم:

**۱ - زمینه‌سازی برای خودکفایی صنعتی**

یکی از اهداف مهم هر نظام اقتصادی پایدار، رســیدن به خودکفایـــی در تولیـــد کالاهای اساســـی اســت. افتتاح کمپلکس فابریکه ها تولیدی، زمینه‌ساز بازگشت افغانستان به مسیر تولید داخلی می‌شود؛ زیرا این فابریکه ها می‌توانند بخشـــی از نیازمندی‌هـــای بازار داخلـــی را تأمین نموده و وابستگی به واردات را کاهش دهند.

**۲ - ایجاد فرصت های کاری**

با شروع به کار این فابریکه ها، صدها تن از جوانان افغان در بخش‌هـــای مختلف تولیـــدی، تخنیکـــی، خدماتی و مدیریتی به کار گماشته می‌شـــوند. همچنین فرصت‌های کاری غیرمســـتقیم مانند ترانســـپورت، تأمین مواد اولیه، فروش و بازاریابـــی نیز فراهم می‌گـــردد. کاریابی یکی از کلیدی‌ترین موارد ثبات اجتماعی و اقتصادی در کشـــور به شمار می‌رود.

**۳ - تقویت سکتور خصوصی و تشویق سرمایه‌گذاری**

ایجـــاد چنین کمپلکس هـــا اعتماد ســـکتور خصوصی را افزایش می‌دهد. شرکت‌های داخلی و خارجی با مشـــاهده اراده جدی امارت اسلامی در حمایت از تولید و صنعت،



برای سرمایه‌گذاری در افغانســتان تشویق می‌شوند. ایجاد فابریکه ها زمینه رقابت ســالم، بهبود کیفیت محصولات و کاهش قیمت‌ها در بازار را نیز فراهم می‌سازد.

**۴ - تأثیر مثبت بر توازن تجارتی کشور**

یکی از چالش‌های جدی افغانســتان در ســال‌های اخیر، بیلانس تجارتی منفی بوده اســت. واردات زیاد و صادرات محدود، موجب خروج اســعار از کشور شــده است. فعال ســازی فابریکه ها تولیدی کمک می‌کند تا نیازمندی‌های بازار از داخل تأمین شــده، واردات کاهش یابد و تولیدات اضافی حتی قابلیت صادرات به کشــورهای همسایه را نیز پیدا کند. این روند بیلانس تجارتی را متوازن‌تر ساخته و به حفظ ارزش افغانی کمک می‌کند.

**۵ - استفاده مؤثر از ظرفیت‌های داخلی**

افغانســتان دارای نیروی کار جوان، منابع طبیعی فراوان و موقعیت ژیواقتصادی مهم اســت. متأسفانه در سال‌های گذشته از این ظرفیت‌ها به‌شکل مؤثر استفاده نشده است. با افتتاح چنین کمپلکس‌ها ، ظرفیت ملی به کار گرفته می شــود، منابع داخلی فعال می‌گردد و چرخ تولید در کشور به حرکت می‌افتد.

**٦ - نمونه موفق مدیریت دولتی**

کمپلکس فابریکه ها تولیدی که از ســوی شرکت انکشاف ملی راه‌اندازی شده، می‌تواند به‌عنوان یک نمونه موفق از مدیریت کارآمد پروژه‌های اقتصادی توسط نهادهای دولتی تلقی شود. این اقدام نه‌تنها اهمیت ظرفیت‌های داخلی را نشان می‌دهد، بلکه اعتماد مردم و نهادهای سرمایه‌گذار را نسبت به نهادهای دولتی نیز افزایش می‌دهد.

## نتیجه گیری

افتتاح کمپلکــس فابریکه ها تولیدی از ســوی شرکت انکشــاف ملی نه‌تنها یک اقدام اقتصادی اســت، بلکه نشــانه‌ای از آغاز یک حرکت جدید در مســیر بازسازی صنعتی افغانســتان به‌شمار می‌آید. این پروژه می‌تواند به‌عنوان الگویی برای سایر پروژه‌های توسعه‌ای و صنعتی در ســطح کشور مطرح شود. این اقدام ثابت می سازد که امارت اسلامی افغانســتان در عرصه بازسازی کشور و رشد اقتصادی نه‌تنها ســخن می‌گوید، بلکه به گونه عملی نیز گام برمی‌دارد. با ادامه چنین اقدامات، افغانســتان می‌توانــد گام‌به‌گام به ســمت یک اقتصاد پایدار، مســتقل و شــگوفا حرکت کند. افغانستان برای پیشرفت صنعتی، نیروی انســانی کافی و ارزان، ذخایر طبیعی فــراوان و مواد خام در اختیار دارد ؛چیزهایی که در گذشته نیز وجود داشت، اما اراده لازم از سوی دولت موجــود نبود. اکنون امارت اسلامی با داشتن اراده قوی برای ساختن کشــور، این همه را در عمل ثابت کرده و مانند کمپلکس فابریکه هــای تولیدی، پروژه‌های مهم یکــی پس از دیگری تکمیــل می‌گردد. چیزی که همه هموطنان کشور آرزوی آن را دارند.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پیرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امریکایي ډالر | ؋٦٨,٨٠ | ؋٦٨,٨٥ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلداري | ؋٢٣٣ | ؋٢٣٤ |
| ١٠٠٠ | ایراني تومن | ؋٠,٧٩ | ؋٠,٨٠ |
| ١ | اروپایي یورو | ؋٧٩,٤٨ | ؋٧٩,٥٤ |
| ١ | روسي روبل | ؋٠,٨٤ | ؋٠,٨٤ |

| اندازه | پولي واحد | پیرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلداري | ؋٧٩٢ | ؋٧٩٢ |
| ١ | انگلیسي پونډ | ؋٩١,٦٧ | ؋٩١,٧٣ |
| ١ | سعودي ریال | ؋١٨,٣٣ | ؋١٨,٣٤ |
| ١ | اماراتي درهم | ؋١٨,٧٢ | ؋١٨,٧٣ |
| ١ | چیني ین | ؋٩,٥٨ | ؋٩,٥٩ |

